.........بېګا مې داسې احساسوله چې د سپوږمۍ په کړکۍ کې راته ناسته يې. خپل خيال مې ليده، لکه ربښتيا په نري غبار پوښلی و. موسک شوم او دواړه لاسونه مې سپوږمۍ ته په سلام و ښورول، هغه سپوږمۍ ته چې ته يې پاس په کړکۍ کې ناسته وې او ماته دې راکتل. د اوړي لږه ګرمي وه، له ونو يخ شمال راته، سپوږمۍ ته مې همداسې کتل. په دې کې له لرې د ډول اوهارمونيې غږونه راغلل. چېرته لرې لکه چې واده و. ماته مې د ماشومتوب شپې را يادې شوې. همداسې د سپوږمۍ يوه شپه وه. يخ شمال د ګرمۍ زور اوبه کاوه. د شنو کروندو خوشبو خوره وه. د کلي په درمند کې ډولونه غربېدل، هارمونيې غږېدې. ربابونه ترنګېدل، او د تور نيمه بالغ مُصلي په پښو کې ګونګروګان شرنګېدل. زلمکي مصلي د جينکو جامې اغوستې وې، تر کميس لاندې يې مصنوعي تيونه هم جوړ کړي وو،اوږدې ځنې يې هم د جينکو وې. ما غوندې ناخبره ماشومانو ته بيخي پېغلوکه نجلۍ ښکارېده. چې چا به ورته يو لس ګون ونيوه، دی به په ګډا ګډا ورتلو، په ناز و ادا به ورکوږ شو، د ګونګروګانو ډکې پښې به يې ورته وشرنګولې، او په خوله به يې لس ګون نوټ ترې واخيست. پيسې ورکوونکی به يو ډول مغرور او بدرنګ ښکارېده. د ماشوم مصلي پر مخ به يې لاس را تېر کړ. پر ماشوم مصلي به مې زړه و خوږېده. خو خلکو به بيا چکچکې کولې. مجلس روان و، نيمه شپه را نږدې کېده. د غره پر سر ورو، ورو سپوږمۍ را اوچتېده. ورو ورو د غره سر ته را وختله . ځو شېبې وروسته د غره له څوکې يوه نيزه جګه و درېده.

دا مهال زلمکي مصلي يوه خوږه سندره پيل کړه:

چې سبا شينه وی

سپوږميه سر وهه په غرو

چې را يې وړينه وی

پېزوان مې وړی دی سپرو

دې سندرې پر ما بل رقم اثر کړی و. ما دا بيخي ربښتيا ګڼله چې د کومې شهزادګۍ يا ښاپيرۍ پېزوان به په آسونو سپرو خلکو چېرته وړی وي ببرته به يې راوړي. دې سندرې له ځانه سره وړی وم. د شهزادګۍ او ښاپيرۍ په پيزوان پسې يې د سپوږمۍ په شپه

ګرځولم. په خیال کې د یوه کندو پر سر ناست وم، چې اوس به پر آسونو سپاره راځي او شهزادګۍ یا ښاپیرۍ ته به د هغې پېزوان راوړي.

دا سندره مې تر ننه په زړه کې ناسته ده، خو کله مې هم د هغه زلمکي مصلي د خواږه غږ غوندې د چا په غږ کې وا نهورېده.

د سپوږمۍ له شپو سره زما ډېرې خاطرې تړلې دي. که خدای وس راکړ، او خواږه سرودونه یې را باندې پیرزو کړل، د سپوږمۍ د شپو خاطرې او ننداره به په کې راولم.

ربښتیا تا هم په یوه کاغذ کې راته لمده موسکا پېچلې وه، د سپوږمۍ له کړکۍ دې لاس را غځولی او په کاغذ کې تاو شوې موسکا دې تر بالښت لاندې راته ایښې وه، خو ارمان چې دا مهال زه ویده شوی وم. ته او سپوږمۍ مې ایله د یوه تت خوب په تصویرونو کې روانې وئ.

سهار مې ستا په کاغذ کې پېچلې موسکا لکه د کوډو تاویز په احتیاط را وسپړله،ښکل مې کړه او په یوه قصیده ګۍ کې مې و غځوله.

مرغکۍهمداسې خوږه خوږه راته چغېږه، سرودونه راوړه، او په پسټو مستو ګوتو د رازونو لمدې غوټې راته سپړه.قربان، جار دې.

ستا د اروا ملګرۍ